# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

دیارلسم کال، یوسلو نهه څلویښتمه ګڼه د ۱۳۹۸ کال د لړم میاشت



## تکمیل موفقانۀ اهداف مقداری برنامۀ تسهیل تمدید کریدت



**هموطنان گرامی!**

پول رایج و واحد پولی افغانستان افغانی است! به همین منظور، از همه افغانها تقاضا بعمل میآید تا در خرید و فروش و معاملات اقتصادی از پول افغانی استفاده نمایند.

## د افغانستان بانک خبرتیا!

د مخکینی خبرتیا په تعقیب، د افغانستان بانک یو ځل بیا درنو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې په مرکز او یو شمېر ولایتونو کې ځینې وګړي لا هم د فورکس د آنلاین سوداګرۍ په نوم مالي معاملې ترسره کوي. د افغانستان بانک تر اوسه هیڅ وګړي یا شرکت ته د فورکس آنلاین فعالیتونو جواز صادر کړی نه دی او په دې برخه کې ټول فعالیتونه غیر قانوني دي. له کومه چې د دغو وګړو او شرکتونو سره معاملې بې خطره نه دي او د هېوادوالو لپاره مالي زیانونه رامنځ ته کوي، له درنو هېوادوالو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د دا شان وګړو او شرکتونو سره له معاملو څخه ډډه وکړي.

د افغانستان بانک په هڅه کې دی چې هغه وګړي چې دا شان فعالیتونه ترسره کوي، وپېژني او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې معرفي کړي.

# بانک


صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوری و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی



آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸



www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+


## د دې ګڼې مطالب


تکمیل موفقانهٔ اهداف مقداری برنامهٔ تسهیل تمدید کریدت

د افغانستان بانک تفاهم نامه همکاری تبادل اطلاعات را با لوی څارنوالی، عقد نمود

هیئت رهبری د افغانستان بانک با نمایندگان مرکز علمی ISRA تدویر جلسه نمود

د بانکوالۍ په برخه کې د آسانتیاوو د رامنځته کولو په اړه غونډه

د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه

په برېښنايي پول مالي خدمتونو ته د لاسرسي په اړه د همغږۍ او همکارۍ غونډه

برگزاری ورکشاپ آموزشی برای محصلین اقتصاد پوهنتون امریکائی افغانستان

نقش کلیدی بانک‌ها در رشد اقتصاد

د نړۍ ۲۰ شتمن بانکونه

د نړۍ لس ارزښت لرونکي اسعار کوم دي؟

فېسبوک د ۲۰۲۰ زېږدیز کال په نیمايي کې ډیجیټلي پیسې په لاره اچوي

د افغانستان بانک عملیاتي کړنوته ځغلنده کتنه

اقتصادي خبرونه

عصر کنونی و شناسایی انواع خطرات اقتصادی

د اوبو مدیریت او د هغې ګټې

نکات چند پیرامون بهبود اقتصاد کشور

سرمایه گذاری روی معدن کرومایت و نتایج آن برای کشور

مختصری پیرامون اقتصاد صحت و سلامت

کورنیو باغچو له ۶۰ زروزیاتې دندې زېږولې دي



**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

# تکمیل موفقانهٔ اهداف مقداری برنامهٔ تسهیل تمدید کریدت

د افغانستان بانک همواره در تطبیق برنامه های اقتصادی طبق معیارهای جهانی و خواست سازمان های پولی بین المللی بخصوص صندوق بین المللی پول موفقانه عمل نموده است تا به اعتبار و اعتماد نظام بانکی کشور بی افزاید که می توان از ششمین و آخرین برنامهٔ تسهیل تمدید کریدت ECF که آنرا در این اواخر موفقانه به پایه اکمال رسانیده است، یادآوری کرد.

پائین نگهداشتن نرخ تورم در کشور، ثبات نسبی پول افغانی در برابر دالر امریکائی با وجود چالش های داخلی و منطقوی، پائین بودن شاخص های پولی ( پول در گردش و پایه پولی) نسبت به سقف از قبل تعیین شده و افزایش ذخایر خالص ارزی کشور نسبت به هدف تعیین شده از دستاورد هایست که د افغانستان بانک در شرایط دشوار و چالش برانگیز سیاسی طبق اهداف از قبل تعیین شده صندوق بین المللی پول به آنها نایل گردیده است.

تطبیق این چنین برنامه ها به اعتبار د افغانستان بانک و در کُل به اعتبار افغانستان در منطقه و جهان بیشتر از پیش افزوده و سبب می گردد تا سازمان های پولی و جامعه جهانی به افغانستان توجه بیشتر مبذول نموده و در سایر عرصه ها بخصوص بخش اقتصاد این کشور را یاری و کمک مالی نمایند.

با تطبیق موفقانه برنامهٔ تسهیل تمدید کریدت نه تنها اینکه از د افغانستان بانک و در کُل از افغانستان ستایش بعمل آمد، بلکه توقع میرود که صندوق بین المللی پول برعلاوه اعطای ۲۷ میلیون SDR که معادل به ۳۷ میلیون دالر می شود، کمک های دیگری را برای بهبود اقتصاد نوپای افغانستان در نظر بگیرد.

# د افغانستان بانک تفاهم نامه همکاری تبادل اطلاعات را با لوی ثارنوالی عقد نمود



کابل، ۹ عقرب ۱۳۹۸- د افغانستان بانک تفاهم نامه همکاری تبادل اطلاعات مالی را در امر مبارزه با پولشویی و تمویل تروریزم با اداره محترم لوی ثارنوالی جمهوری اسلامی افغانستان، به امضا رساند.

محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک در این جلسه که در سالون کنفرانس های د افغانستان بانک برگزار گردیده بود، روی ارزش و ماهیت این توافق صحبت نموده افزود که این توافق نامه در امر مبارزه با پولشویی ، تمویل تروریزم و مبارزه با سایر جرایم نهایت مهم میباشد.

در همین حال، محترم خواجه عبدالحق احمدی، معاون لوی ثارنوالی در امر مبارزه با فساد نیز از امضای این توافقنامه به عنوان یک دست آورد مهم در راستای تشریک اطلاعات و معلومات فی میان د افغانستان بانک و اداره لوی ثارنوالی یاد کرده افزود که هرچند د افغانستان بانک و لوی ثارنوالی قبل از این نیز در این زمینه همکاری داشته اند، اما امضای چنین توافقی باعث تقویت بیشتر همکاری بین جانبین میگردد.

وی در ادامه گفت که لوی ثارنوالی جمهوری اسلامی افغانستان توافق نامه های مشابه را با چندین نهاد دیگر نیز به امضا رسانیده است که ما شاهد دستآورد های مهم بوده ایم.

لازم به ذکر است که در این جلسه نثاراحمد یوسفزی آمر عمومی مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی د افغانستان بانک روی ماهیت تفاهم نامه روشنایی انداخته و جزئیات را در اختیار شرکت کنندگان این کنفرانس قرار داد.

وی افزودکه با امضای این توافق نامه با اداره لوی ثارنوالی همکاری های تخنیکی بیشتر گردیده و با جرایم پولشویی، تمویل تروریزم و سایر جرایم مالی مبارزه خواهد شد.

## هیئت رهبری د افغانستان بانک با نمایندگان مرکز علمی ISRA تدویر جلسه نمود



کابل، ۱۲ عقرب – محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک با نمایندگان مرکز علمی ISRA پیرامون طرح و تدوین قانون و مقرره صکوک دیدار نمود.

طی این جلسه محترم واحد الله نوشیر و آمرین آمریت های مختلف د افغانستان بانک پیرامون مقرره و قانون صکوک دیدگاه ها و نظریات خود را با مرکز علمی ISRA در میان گذاشته و پیرامون موضوعات مشخص تبادل دیدگاه نمودند.

نمایندگان مرکز علمی ISRA توسط حکومت افغانستان از کشور مالیزیا جهت همکاری در راستای قانون و مقرره های صکوک دعوت گردیده اند. افغانستان هنوز قوانین و مقررات صکوک را در اختیار ندارد و انتظار می رود نمایندگان این مرکز در ایجاد این قانون و مقررات نقش مثبتی داشته باشند.

(ISRA)مرکز اکادمیک بانکداری اسلامی پیشرو در جهان میباشد که تا اکنون دستاوردهای بسیاری در این زمینه داشته است.

باید گفت که این مرکز پیش از این نیز برای شماری از ادارات مختلف جهان قوانین و مقررات مشابه را در این زمینه تهیه کرده است.

ناگفته نماند که مرکز اکادمیک (ISRA) در بخش بانکداری اسلامی توسط بانک مرکزی کشور مالیزیا در سال ۲۰۰۸ ایجاد گردیده است.

## د بانکوالۍ په برخه کې د آسانتیاوو د رامنځته کولو په اړه غونډه



کابل د ۱۳۹۸ کال د لړم ۴ مه – د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر په مشرۍ د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه جوړه شوه.

د دې غونډې په پیل کې د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر د امریکا متحدو ایالاتو ته د خپل سفر په اړه لنډ معلومات ورکړل او یادونه یې وکړه چې د افغانستان بانک د پیسو له نړیوال صندوق سره ګډ اقتصادي پروګرام په بریالیتوب سره بشپړ کړ. نوموړي د کریډټ د غځولو د اسانتیاوو پروګرام (ECF) بشپړېدل یوه لویه لاسته راوړنه یاده کړه.

تر هغې وروسته د سوداګریزو بانکونو له استازو سره د پورونو د ورکړې د حسابونو د پاکولو، د افغانستان بانک له لوري د بانکي سکتور په برخه کې د مقرراتو د رامنځته کولو، په بانکي ځانګو کې د لا زیاتو آسانتیاوو په رامنځته کولو او یو شمېر نورو موضوع ګانو په اړه خبرې وشوې.

په یاده غونډه کې د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر او د دې بانک اړوندو مسئولینو د غونډې د ګډونوالو نظرونه واورېدل او د اړوندو موضوعاتو په اړه یې له دوی سره بحث وکړ.

ښاغلي نوشېر زیاته کړه چې د افغانستان بانک به د شتو قوانینو او مقرراتو په چوکاټ کې د چارو د لا ښه والي لپاره ګامونه پورته کړي.

# د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه





کابل، ۱۳۹۸ کال د لړم ۱۹ مه – دافغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر په مشرۍ د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې د بانکونو له لوري د پورونو د ورکړې په برخه کې د ګټې په کچه، تضمین او د پورونو د ورکړې په څرنګوالي او د یو شمېر نورو موضوعګانو په اړه خبرې وشوې.

د دې غونډې په ترڅ کې ښاغلي واحدالله نوشېر د پورونو د ورکړې په برخه کې د قانون په رڼا کې د لا زیاتو آسانتیاوو په رامنځته کولو ټینګار وکړ.

پاتې دې نه وي چې په دې غونډه کې افغان سوداګرې آغلې مرضیه حفیظي هم ګډون کړی ؤ، نوموړې د افغان ښځینه سوداګرو لپاره د بانکونو له لوري د پورونو د ورکړې په برخه کې د زیاتو آسانتیاوو په رامنځته کولو ټینګار وکړ.

باید وویل شي چې په دې غونډه کې د سوداګریزو بانکونو استازو هم په دې برخه کې د غوره خدمتونو د وړاندې کولو ژمنه وکړه او یادونه یې وکړه چې دوی به هغه کسانو ته چې غوره اقتصادي پلانونه ولري د پورونو په ورکړه کې لا زیاتې آسانتیاوې رامنځته کړي.

# په برېښنايي ډول مالي خدمتونو ته د لاسرسي په اړه د همغږۍ او همکارۍ غونډه



کابل، ۱۳۹۸ کال د لړم ۲۷ مه – د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر په مشرۍ د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظيم اداري (اترا) له استازو سره په برېښنايي ډول مالي خدمتونو ته د لاسرسي په اړه د همغږۍ او همکارۍ غونډه جوړه شوه.

په دغه غونډه کې د افغانستان بانک سرپرست ښاغلي واحدالله نوشېر په برېښنايي ډول مالي خدمتونو ته د لاسرسي په ارزښت خبرې وکړې او څرګنده یې کړه چې دې خدمتونو ته د لاسرسي لپاره دې د افغانستان بانک او د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظيم له اداري سره یوه ګډه کمېټه رامنځته شي چې یاده کمېټه په برېښنايي ډول مالي خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې خپلې تخنیکي مشورې له اړوندو ادارو سره شریکې کړي، ترڅو په دې برخه کې د لا زیاتې همغږۍ او همکارۍ لپاره زمینه برابره شي.

په یاده غونډه کې چې د افغانستان د مخابراتی خدمتونو د تنظيم اداري (اترا) مالي او اداري مرستیال ښاغلي سید بلال هاشمي هم ګډون درلود، په دې برخه کې د افغانستان بانک له مرستو مننه وکړه او د ښاغلي نوشېر د خبرو په ملاتړ یې د افغانستان بانک او د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظيم اداري ترمنځ د ګډې کمېټې له رامنځته کولو هرکلی وکړ.

ښاغلي هاشمي هیله وښوده چې د دې ګډې کمېټې په رامنځته کېدلو سره به د یادو ادارو ترمنځ په چارو کې لا زیاته همغږي رامنځته شي او چارې به په پوره ډاډ سره مخته لاړې شي.

باید یادونه وشي چې په دې غونډه کې د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظيم اداري د استازو له لوري د همکاریو د څرنګوالي او په چارو کې د دواړو ادارو د هغمږۍ په اړه یو معلوماتي پریزنتیشن هم وړاندې شو. •

# برگزاری ورکشاپ آموزشی برای محصلین اقتصاد پوهنتون امریکائی افغانستان




کابل، ۲۷ عقرب ۱۳۹۸– د افغانستان بانک به سلسله برنامه های آموزشی برای محصلین رشته های اقتصاد، مالی و بانکی پوهنتون های کشور، این بار برنامه آموزشی را در زمینه اهداف، وظایف و سیاست های کُلی بانک برای محصلین اقتصاد پوهنتون امریکائی واحد افغانستان برگزار کرد.

در ابتدأ محترم دیوید سدنی رئیس پوهنتون امریکائی افغانستان ضمن خوش آمدید گوئی هیئت د افغانستان بانک به پوهنتون امریکائی روی اهمیت برگزاری چنین ورکشاپ ها صحبت نموده افزود که ممنون د افغانستان بانک هستیم که فرصت گذاشتند و چنین برنامهٔ مؤثر را برای محصلین ما مد نظر گرفتند.

او از تلاش های د افغانستان بانک در زمینه ثبات قیم، نرخ برابری افغانی در برابر اسعار و استحکام نظام مالی کشور نیز به خوبی یادآوری نموده، اظهار داشت که د افغانستان بانک طی سالهای گذشته با وصف چالش های زیاد، توانسته است به دستاورد های قابل ملاحظه ای دست یازد.

متعاقباً، محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک صحبت نموده گفت که راه انداز ی چنین ورکشاپ ها جزوی همکاری های اکادمیک بانک با پوهنتون های کشور است که محصلین محترم با اشتراک در این ورکشاپ ها نحو اجراات بانک مرکزی در قبال تطبیق سیاست پولی، نظارت از سکتور مالی و وظایف منحصر به بانک مرکزی را می آموزند.

محترم نوشیر در قسمت دیگر از صحبت های خود روی تلاش های د افغانستان بانک برای تسهیل دسترسی مردم به خدمات بانکی صحبت نموده گفت که د افغانستان بانک در زمینه تسهیل دسترسی مردم به خدمات مالی و بانکی قوانین مرتبط را مرور و تعدیلات لازم را بخصوص در قسمت تضمین های بانکی بمیان آورده تا زمینه را برای دسترسی مردم به قرضه و سایر خدمات نظام بانکی فراهم نماید.

در ادامه، محترم نایب خان جمال آمر عمومی سیاست پولی د افغانستان بانک طی پریزنتیشنی در زمینه طرح و تطبیق سیاست پولی صحبت نموده و روی چگونگی تحلیل وضعیت اقتصادی کشور و منطقه، برآورد تورم، سنجش رشد محصولات ناخالص داخلی، بیلانس تادیات و سایر وظایف مرتبط به آمریت عمومی سیاست پولی تماس گرفت.

محترم جمال صحبت های خود را با برشمردن تعداد چالش ها فرا راه تطبیق سیاست پولی درکشور پایان داد.

سپس محترم سید محسن سادات معاون آمر عمومی نظارت امور مالی د افغانستان بانک در زمینه اهداف و وظایف نظارت امور مالی صحبت نموده معلومات مفصلی را در زمینهٔ ثبات مالی با اشتراک کننده گان این ورکشاپ در میان گذاشت.

محترم سادات در قسمت نقش قانونگذار و نظارت گر د افغانستان بانک نیز روشنی انداخته و نحو نظارت از بانکها را با درجه بندی "بانک خوب" و "بانک بد" واضح ساخت.

این ورکشاپ با اهدای لوح تقدیر از د افغانستان بانک مبنی بر راه اندازی چنین برنامه های مؤثر و توزیع تصدیق نامه به اشتراک کننده گان پایان یافت.

# نقش کلیدی بانک‌ها در رشد اقتصاد



غلام‌حسن زاهدی
مدیر عمومی روابط فرهنگی پوهنتون
پولی‌تخنیک کابل

بانک‌ها از مؤثرترین پدیده‌های اند که برای بهبود زندگی و تغییرات اساسی امور اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی، سیاسی و سایر بخش‌ها مصروف فعالیت اند. امروز دانشمندان بانک‌ها را ستون فقرات و شاه‌کلید رشد و توسعه اقتصاد قلم‌داد می‌نمایند و نقش آنها در همه امور اقتصادی و سایر موارد باگذشت هر روز برجسته‌تر و پُررنگ‌تر می‌شود.

به طور کُل نقش بانک‌ها در اقتصاد کشور و تأمین نیازهای مالی برای واحدهای تولیدی و تجاری برجسته است. بانک‌ها از یک طرف سرمایه‌های خُرد را جذب کرده و از طرف دیگر در قالب تسهیلات به واحدهای تولیدی و صنعتی خدمات ارائه می نمایند که این امر باعث تقویت آن‌ها شده و در نتیجه واحدهای تولیدی می توانند نقش خود را در اقتصاد ملی به درستی ایفا کنند.

بانک‌ها به طور کُل نقش بازار پولی را ایفاء کرده و از این طریق تأمین نقدینگی برای واحدهای تولیدی و صنعتی و رفع نیازهای خُرد مالی مردم صورت می گیرد.

**نقش بانک‌ها در رونق تولیدات داخلی**

نقش کلیدی بانک‌ها در تسریع شکوفایی اقتصادی و حمایت از رونق تولیدات داخلی یک امر انکار ناپذیر است.

بانک‌ها به منظور رونق تولیدات داخلی همانند خون در بدن انسان نقش کلیدی ایفا می‌کنند و به هر میزانی که این نقش پررنگ‌تر و سیستماتیک شود، رونق تولیدات به شیوه‌ی درست و بنیادی بهبود می‌یابد. در واقع بانک‌ها، مراکز و مؤسساتی اند که سپرده‌های عموم مردم را به عنوان ودیعه دریافت کرده و آن را به سمت چرخه های تولیدی و صنعتی هدایت می‌کنند.

بدون شک که غفلت در رونق تولیدات داخلی، هزینه‌های سنگینی را به مردم و کشور تحمیل خواهند کرد. با روی کار آمدن دورهٔ نوین در کشور، در راستای حمایت و رونق تولیدات داخلی توجه صورت گرفته است، اما این توجه به تولیدات داخلی به این اندازه بسنده نبوده و این مسئله به توجه بیشتر نیاز دارد تا باعث رشد اقتصادی کشور گردد.

بانک‌ها با اعطای قرضه‌ها به شرکت‌های تولیدی زمینه را برای رونق تولیدات داخلی فراهم نموده و در بهبود وضعیت اقتصاد کشور نقش اساسی بازی می‌کنند. در این میان، از یک طرف زمینه کار را برای متقاضیان در بازارهای داخلی فراهم نموده و از طرف دیگر با به دوران انداختن سرمایه در داخل مارکیت، شهروندان کشور به صورت مستقیم و غیرمستقیم از آن نفع می‌برند.

**نقش بانک‌ها در جذب سرمایه‌گذاری**

در عصر کنونی، سرمایه‌گذاری بانک‌ها در کشورهای پیشرفته صنعتی در حقیقت رهگشا، مشاور حرفوی و متخصص افزایش منابع مالی شرکت‌ها و جمع‌آوری و تبادل اطلاعات لازم برای مشتریان عنوان می شود. از این‌رو بانک ها در موضوعات استراتیژیک از قبیل توسعه، جذب مشارکت، انتشار و فروش سهام، ادغام، انتقال و تبدیل مؤسسات اقتصادی، تملک و سایر معاملات ذیربط از مراکز مهم و تخصصی مشوره دهی به شمار می‌روند.

»

بحث‌های پرداخت و دریافت و انجام حواله جات بین‌المللی و مهم‌ترین آن‌ها در فعالیت های مالی بین‌المللی، جذب سرمایه‌گذاری خارجی، تأمین مالی خارجی و سرمایه‌گذاری روی فعالیت های زیربنایی و توسعه اقتصادی است که در هر کشوری مورد توجه نظام بانکی قرار دارد و بانک‌های ما نیز باید در این راستا عملکرد خویش را بیشتر از پیش تقویه بخشیده و به رتبه اعتباری خود بی افزایند.

بدون شک، وقتی بانک‌های کشور از اعتبار بالای برخوردار باشند، به یقین می‌توانند در جذب سرمایه‌های داخلی و خارجی نقش مهم بازی نمایند.

**تأثیر گذاری تسهیلات بانکی بر اشتغال‌زایی**

اساساً فلسفه وجودی بانک‌ها راه‌اندازی تولید و اشتغال‌زایی است. اگر تولید نباشد، هیچ عمل اقتصادی پایداری صورت نخواهد گرفت و بدون شک تسهیلات بانکی زمینه را برای اشتغال‌زایی در جامعه فراهم می‌نماید.

نقش بانک‌ها حمایت از تولید و اشتغال است. بانک‌ها می‌توانند به عنوان مشارکت در امر تولید و اشتغال زایی، از جهت حمایتی وارد شوند. مشارکت به این معنا نیست که خودشان سرمایه‌گذاری کنند، در واقع مشارکت به این معنا است که در کنار سایر کسانی که آماده سرمایه‌گذاری هستند، تسهیلات را آماده کرده و از این طریق در اشتغال‌زایی برای شهروندان کشور نقش اساسی ایفاء نمایند.

با توجه به گسترش فعالیت های نظام بانکی کشور در سال‌های اخیر و هم‌چنین افزایش تسهیلات و خدمات بانک‌ها، عملکرد سیستم بانکی در بخش‌های اقتصادی تأثیرات عمیق روی اشتغال‌زایی از خود به جا گذاشته است. در واقع آن چه مهم است کارآمدی این نوع تسهیلات بانکی در ایجاد فرصت‌های شغلی جدید است.

در مجموع تسهیلات بانکی در تمام بخش‌ها و به ویژه در بخش‌های صنعت و معدن، تجارت و خدمات و زراعت مفید بوده که در ایجاد شغل و کار، مؤثر واقع شده است.

امید می‌رود تمام نهادها، بخش‌ها و گروه‌های ذیربط و کلیه آحاد جامعه به سهم خود، برای توسعه تولیدی و صنعتی کشور تلاش کنند و در چنین شرایطی بخش قابل توجهی از سرمایه‌های عموم مردم به بخش‌های مولد سوق پیدا می کند.

**نتیجه‌گیری**

بانک‌ها به مثابه خون در بدن انسان، وظایف سنگین را در رونق معاملات تجاری، اقتصادی و سایر موارد انجام می‌دهند. نیاز دیده می شود تا مسئولان ذیربط کشور سیاست‌های کارشناسانه و معقولانه را روی دست گیرند تا از ظرفیت‌های موجود بانکی برای تغییرات بنیادی اقتصادی کشور استفاده بهینه صورت گیرد.

به صورت کُلی، نقش کلیدی بانک‌ها روی اقتصاد کشور در نکات ذیل خلاصه می شود:

- اقتصاد فکتورهای زیادی دارد و بانک‌ها یکی از مهم‌ترین عوامل رشد اقتصاد به شمار می‌روند.
- بانک‌ها ستون فقرات اقتصاد بوده و باید به صورت درست مدیریت شوند.
- بانک‌ها وظایف سنگین و اساسی را در رشد و توسعه اقتصاد کشور ایفا می کنند و لازم است به طور سیستماتیک و نظام‌مند حرکت نمایند.
- بانک‌ها در زمینه جذب سرمایه‌گذاری داخلی و خارجی مؤثر عمل می کنند، به شرطی که براساس اصول و مقررات استوار باشند.
- بانک‌ها در اشتغال‌زایی حرف اول را می‌زنند و با اعطای قرضه‌های مختلف زمینه کارآفرینی را فراهم می‌نمایند.
- بانک‌ها یکی از حامیان اصلی صنایع داخلی بوده و در رونق آن از هر عامل اقتصادی دیگر نقش برازنده‌تر دارند.

**منابع:**


1. مقاله نقش توزیع تسهیلات اعطایی بانک‌ها در رشد اقتصاد، نویسنده طاهر پور ۱۳۹۷
2. مقاله نقش بانک‌ها در توسعه اقتصاد و تجارت، نویسنده برات محمدی ۱۳۹۲.
3. سایت دویچه وله فارسی آلمان https://www.dw.com
4. https://www.smtnews.ir

# د نړۍ ۲۰ شتمن بانکونه

دا چې دا بانکونه کوم دي او څومره شتمنی لري په اړه يې معلومات په لاندې توګه وړاندې کيږي:

**۱. د چين صنعتي او سوداګريز (ICBC) بانک:**

دا د نړۍ تر ټولو لوی او بډایه بانک دی چې د دې هېواد د بانکونو (۵/۱) برخه په خپل کنټرول کې لري. د آی سي بي سي د وروستيو معلوماتو له مخې، دا بانک اوس مهال ۴،۰۰۹ میلیارده ډالر شتمني لري چې په نړيوال بازار کې يې ۲۳۸ میلیارد ډالر پانګه اچونه کړې ده.

دا بانک په ۱۹۸۴ میلادي کال کې رامنځته شوی او دا مهال په کې ۴۶۰۰۰۰ کسان پر دندو بوخت دي. د آی سي بي سي مرکزي دفتر د چين هېواد په پيکينګ ښار کې موقعيت لري چې د دې بانک له ۷۰ سلنې زياته برخه د دولت ملکيت دی.

**۲. د چين د ودانيزو چارو (CCB) بانک:**

دا د نړۍ دويم لوی بانک دی چې په ۱۹۵۴ زېږديز کال کې د چين په هېواد کې جوړ شوی دی.

د سي سي بي بانک د وروستيو معلوماتو پر بنسټ د دې بانک ټوله شتمني ۳۴۰۰ میلیاردو ډالرو ته رسېږي او دا مهال يې په نړيوال بازار کې شاوخوا ۲۰۰ میلیارد ډالر پانګه اچونه کړې ده.

معلومات ښيي چې دا بانک په لومړي سر کې يوازې د حکومتي تبادلو لپاره رامنځته شوی ؤ چې وروسته بيا په سوداګريز بانک بدل شو.

دا بانک د ټولې نړۍ په کچه تر ۱۴ زره زياتې استازولی لري چې په کې تر ۳۷۰۰۰۰ زيات کارکوونکي په دندو بوخت دي.

**۳. د چين کرنيز (ABoC) بانک:**

د چين کرنيز بانک په ۱۹۵۱ زېږديز کال کې د ماو ژيډونګ له خوا د کرنې د پرمختګ په موخه له کروندګرو او کارګرو سره د مرستې لپاره رامنځته شو، دا بانک اوسمهال نږدې د نړۍ په ټولو هېوادونو کې سوداګريزې راکړې ورکړې لري.

د دې بانک، مرکزي دفتر په پيکينګ کې دی چې پر دغه هېواد سربېره په بهرنيو هېوادونو کې هم نږدې ۲۴ زره استازولی لري.

د چين د کرنيز بانک د وروستيو معلوماتو پر بنسټ د دې بانک ټوله شتمني ۳۲۳۵ میلیارد ډالرو ته رسېږي چې په بازار کې يې ۱۹۰ میلیارده ډالر پانګه اچونه کړې ده.

**۴. د چين (BC ltd) بانک:**

د چين دا بانک د دغه هېواد د پخوانيو او معتبرو بانکونو څخه دی. ياد بانک په ۱۹۱۲ زېږديز کال کې رامنځته شوی دی چې لاهم د ملي بانکدارۍ د سکتور رهبري پر غاړه لري.

د دې بانک ۷۰ سلنه برخه د دولت ونډه ده او د نړۍ په ۲۰ هېوادونو کې استازولی لري. د دې بانک د وروستيو معلوماتو پر بنسټ د دوی شتمني ۲۹۹۱ میلیارد ډالرو ته رسېږي او په بازار کې يې ۱۶۲ میلیارد ډالره پانګه اچونه کړې ده.

**۵. د ميتسو بيشي يو اف جي مالي ډله (MUFG) يا د جاپان ستر بانک:**

دا بانک چې په جاپان کې دی، ۲۷۰۰ میلیارد ډالر شتمني لري چې د دې هېواد له غوره بانکونو شمېرل کيږي. د دې بانک څانګې د نړۍ په شاوخوا ۴۰ هېوادونو کې فعالې دي.

دا بانک په ۲۰۰۵ زېږديز کال کې د جاپان د هېواد د دوو لويو بانکونو له يو ځای کېدو وروسته رامنځته شو چې مرکزي دفتر يې د دې هېواد په اوساکا ښار کې دی.

**۶. د امريکا جې پي مارګن چېس (JPMorgan Chase) بانک:**

دا د امريکا د متحده ايالاتو له نامتو او مشهورو بانکونو څخه شمېرل کيږي. دا بانک په ۲۰۰۰ زېږديز کال کې د دې هېواد د څو لويو بانکو له يو ځای کېدو رامنځته شو.

جې پي مارګن چې د نيويارک په منهټن کې دی، دا د نړۍ تر ټولو لوی بانک دی چې زياته پانګه اچونه يې کړې ده.

د دې بانک شتمني ۲۵۳۳ میلیارد ډالرو ته رسېږي او په بازار کې يې ۳۳۲.۲۴ میلیارد ډالره پانګه اچونه کړې ده.

**۷. د لندن اېچ ايس بي سي (HSBC Holdings plc) بانک:**

د لندن د اېچ ايس بي سي بانک د اروپا د لويو بانکونو له ډلې دی چې شاوخوا ۲۵۰۰ میلیارد ډالر شتمني لري.

د دې بانک د جوړېدو موخه د اروپا او چين تر منځ د اسعارو د »

تبادلې رامنځته کول وو چې دا چاره لا هم دوام لري. دا بانک په نړۍ کې لس نورې فرعي څانګې هم لري.

**۸. د فرانسې د بي اين پي پريبا (BNP Pariba) بانک:**

د فرانسې د هېواد دا بانک په ۱۹۹۹ زېږديز کال کې جوړ شو او دا مهال د مالي، بانکدارۍ او بيمې په برخه کې د مخکښو بانکونو له ډلې بلل کېږي. د دې بانک استازولۍ د نړۍ په ډېرى هېوادونو کې فعالې دي او مرکزي دفترونه يې په جينوا، لندن او پاريس کې موقعيت لري.

دا بانک ۲۳۵۷ ميلیارده ډالره شتمني لري او په نړيوال بازار کې يې ۷۳ ميليارد ډالر پانګه اچونه کړې ده.

**۹. د امريکا (BoA) بانک:**

د امريکا دا بانک د دې هېواد دويم لوی بانک دی چې په دغه هېواد دننه او بهر کې فعاليتونه تر سره کوي. مرکزي دفتر يې د شمالي کارولينا په چارلوټ ښار کې موقعيت لري.

د دې بانک د وروستيو معلوماتو پر بنسټ د دغه شتمني ۲۲۸۱ ميلياردو ډالرو ته رسيږي چې په نړيوال بازار کې يې ۱۶۳ ميليارد ډالره پانګه اچونه کړې ده.

**۱۰. د فرانسې د کريديت اګريکول (Crédit Agricole) بانک:**

کريډيټ اګريکول د فرانسې هېواد بانک دی او د نړۍ د لسو لويو بانکونو له ډلې شمېرل کېږي. د دې بانک شتمنی دا مهال ۲۱۱۷ ميلیارده ډالرو ته رسيږي.

کريډيټ اګريکول په فرانسه کې د لويو کمپنيو له ډلې دی چې دا مهال د بانکي سکتور لويه برخه کنترولوي.

لس نور لوی بانکونه شته چې کېدای شي په راتلونکو څو کلونو کې د پورته يادو شوو بانکونو په ليکه کې ودرېږي چې په اړه يې معلومات په لاندې ډول وړاندې کېږي.

۱۱. د امريکا ويلز فارګو (Wells Fargo) بانک: د امريکا دا بانک دا مهال ۱۹۵۱ ميلیارده ډالر شتمني لري او د نړۍ يوولسم لوی بانک شمېرل کېږي.

۱۲. د جاپان پوست (Japan Post Bank) بانک: دا د نړۍ دوولسم لوی بانک دی چې ټوله شتمني يې ۱۸۷۴ ميليارد ډالرو ته رسيږي.

۱۳. د امريکا ستي ګروپ (Citigroup) بانک: د امريکا هېواد بل بانک دی چې په نړۍ کې ديارلسم لوی بانک ګڼل کېږي، دا مهال يې شتمني ۱۸۴۲ ميلياردو ډالرو ته رسيږي.

۱۴. د جاپان د سميټومو ميتسوئ مالي ډله (Sumitomo Mitsui Financial Group) بانک: د جاپان دې بانک په نړۍ کې د څوارلسم لوی بانک نوم خپل کړی دی، د دې بانک ټوله شتمني ۱۷۷۵ ميلياردو ډالرو ته رسيږي.

۱۵. د جرمني دويچه (Deutsche Bank) بانک: د جرمني د دې بانک ټوله شتمني ۱۷۶۵ ميلياردو ډالرو ته رسيږي او يادې شتمنۍ دې بانک ته په نړيواله کچه د لويو بانکونو په ليکه کې پنځه لسم ځای ورکړی دی.

۱۶. د هسپانيې د بانکو سنتنډر (Banco Santander) بانک: د هسپانيا د هېواد د دغه بانک ټوله شتمني ۱۷۳۶ ميلياردو ډالرو ته رسيږي او دې شتمنۍ ياد بانک د بانکوالۍ په ليکه کې ۱۶ مقام کې درولی دی.

۱۷. د جاپان د ميزو مالي ډله (Mizuho Financial Group) بانک: د جاپان هېواد د دغه بانک ټوله شتمني دا مهال ۱۷۱۵ ميليارد ډالرو ته رسيږي.

۱۸. د انګلينډ د بارکليز (Barclays) بانک: د دې بانک ټوله شتمني ۱۵۳۲ ميليارد ډالره ده.

۱۹. د فرانسې د سوسايټي جينرال (Societe Generale) بانک: د فرانسې هېواد دې بانک د نړۍ د لويو بانکونو په ليکه کې ۱۹ ځای خپل کړی دی، د دې بانک ټوله شتمني ۱۵۳۱ ميليارد ډالره ده.

۲۰. د فرانسې د بي پي سي اي ګروپ (Groupe BPCE) بانک: دا هم د فرانسې پر هېواد پورې تړلی بانک دی چې ټوله شتمني يې ۱۵۱۲ ميليارد ډالره ښودل شوې ده.


سرچينه:

۱ – فيکسي ويبپاڼه/ د نړۍ ۲۰ لوی بانکونه

TOP 20 Largest World Banks in 2019 by Total Assets

https://fxssi.com/top-20-largest-world-banks-in-current-year

۲- The largest banks in the world

https://www.bankrate.com/finance/banking/largest-banks-in-the-world-1.aspx




# د نړۍ لس ارزښت لرونکي اسعار کوم دي؟

د معلوماتو پر بنسټ د کویټ، بحرین، عمان، اردن، انګلستان، کایمن، اروپایي ټولنې، سویس، امریکا او کاناډا پیسې په ترتیب سره په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې د نړۍ تر ټولو با ارزښته اسعار دي چې په ترتیب سره به یې معلومات په لاندې ډول وړاندې شي.

۱. کویټي دینار د نړۍ د تر ټولو ارزښتمنو اسعارو له ډلې شمېرل کېږي چې د یوه دینار بیه یې له (۳.۲۹) امریکایي ډالرو سره برابره ده.

د دې هېواد پیسې د لومړي ځل لپاره په ۱۹۶۱ زیږدیز کال کې چاپ شوې او په کم وخت کې یې په نړیواله کچه د اسعارو د ارزښت په برخه کې لومړی مقام خپل کړ.

کویت د نړۍ هغه یو کوچنی هېواد دی چې د تېلو او ګازو پراخو زېرمو یې د اسعارو ارزښت په نړیواله کچه لوړ کړی دی.

۲. د بحرین دینار د نړۍ دویم با ارزښته اسعار شمېرل کېږي. د دې هېواد د یوه دینار بیه (۲.۶۵) امریکایي ډالره کېږي.

بحرین د فارس خلیج د هغو هېوادونو له ډلې دی چې د عوایدو زیاته برخه یې د تورې طلا صادرات دي او د دغه هېواد پیسې له ۲۰۰۵ زیږدیز کال را په دېخوا د نورو اسعارو په مقابل کې خپله بیه ثابته ساتلې ده.

۳. د عمان ریال د نړۍ دریم باارزښته اسعار شمېرل کېږي. عمان د عربي هېوادونو له ډلې دی او د یوه ریال بیه یې له(۲.۶۰) امریکایي ډالرو سره برابره ده.

د دې هېواد پیسې هم په نړیواله کچه خپل پولي ارزښت ساتلی دی. په دې هېواد کې د نفتو او ګازو لویې زېرمې موجودې دي او د دغه هېواد په اقتصادي پرمختګ کې یې رغنده رول لوبولی دی.

۴. د اردن دینار د نړۍ څلورم باارزښته

»

اسعار دی. د دې هېواد د یو دینار بیه له (۱.۴۱) امریکایي ډالرو سره برابره ده.

که څه هم دا هېواد د پورته ذکر شویو درېیو نورو عربي هېوادونو په شان د بډایه تیلو او ګازو لرونکی نه دی، خو د خپل پولي واحد ارزښت یې ساتلی او د نړۍ د ارزښت لرونکو اسعارو د هېوادونو په لیکه کې ولاړ دی.

۵. که څه هم په نړۍ کې ډېری کسان فکر کوي چې پونډ د نړۍ تر ټولو باارزښته پیسه ده، خو معلومات ښيي چې د انګلستان هېواد پونډ د نړۍ پنځم نمبر ارزښتناکو اسعارو له ډلې دی. د دې هېواد د یو پونډ بیه دا مهال (۱.۲۷) امریکایي ډالره کېږي.

پونډ د نړۍ تر ټولو پخوانۍ پیسې دي.

۶. د کیمن هېواد ډالر د نړۍ په کچه د شپږم نمبر ارزښتناکو اسعارو له ډلې شمېرل کېږي. د دې هېواد د یوه ډالر بیه (۱.۲۰) امریکایي ډالره کېږي.

د دې هېواد پولي واحد د لومړي ځل لپاره په ۱۹۷۲ زېږدیز کال کې چاپ شو چې ډېری عواید د مالیاتو له لارې تر لاسه کېږي او دې هېواد زیات شمېر بانکونو او لویو کمپنیو ته د فعالیت جوازونه ورکړي دي.

۷. د اروپايي ټولنې یورو د نړۍ په اسعارو کې اووم ځای خپل کړی دی. دا مهال په نړیوال بازار کې د یو یورو بیه له (۱.۱۴) امریکایي ډالرو سره برابره ده.

یورو په ۱۹۹۹ زېږدیز کال کې له چاپه راووته او دا مهال په ۱۷ اروپايي هېوادونو کې ترې ګټه اخیستل کېږي.

باید وویل شي چې یورو له امریکایي ډالرو وروسته د نړۍ د پیسو د سپما ۲۲.۲ سلنه جوړه کړې ده.

۸. سویسي فرانک د نړۍ آتم نمبر ارزښتناک اسعار شمېرل کېږي. سویس نه یوازې دا چې د اقتصاد له پلوه پرمخ تللی هېواد دی، بلکې یو باثباته هېواد هم ګڼل کېږي چې د بانکوالۍ په برخه کې په نړیواله کچه د غوره نوم لرونکی هېواد دی.

پر دې سربېره یاد هېواد د خپلو تولیدي توکو او غوره تکنالوژۍ له برکته په نړیواله کچه پېژندل شوی هېواد دی.د دې هېواد بانکنوټ د نړۍ یوازینی باارزښته بانکنوټ دی چې په عمودي ډول لیکنې پرې شوې دي.

۹. امریکایي ډالر د نړۍ په کچه نهم نمبر ارزښتناک اسعار ګڼل کېږي. د امریکا متحد ایالتونه چې دا مهال د نړۍ اقتصاد رهبري کوي، دې چارې د یاد هېواد پولي واحد ته د دې ارزښت ورکړی دی چې د نړۍ په هره برخه کې له یادو اسعارو ګټه پورته شي او په هره برخه کې پرې پانګه اچونه تر سره شي.

۱۰. کاناډايي ډالر د نړۍ لسم نمبر ارزښتناک اسعار شمېرل کېږي. د دې هېواد د یو ډالر بیه (۰.۷۵) امریکایي ډالره کېږي.

دې ډالر ته په نړیوال بازار کې د لونې نوم هم کارول کېږي. •

ژباړه: حسیب الله نوري

د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفیسر/ خبریال

سرچینې:

۱ – فیکسي ویبپاڼه

TOP 10 – The Most Expensive World Currencies in 2019

https://fxssi.com/top-10-of-the-strongest-world-currencies-in-current-year

۲ – با ارزش ترین پول های جهان/

http://namnak.com/با-ارزش-ترین-پول.p34952




# فېسبوک د ۲۰۲۰

## زېږدیز کال په نیمایي کې ډیجیټلي پیسې په لاره اچوي

فېسبوک د لیبرا (Libra) په نوم د شتمنیو د ملاتړ د زنځیره ای (block chain-based) اسعارو لپاره پلانونه اعلان کړي چې د ویزې (visa)، پې پال(PayPal)، امبر (Umber) او نږدې ۲۰ نورو لویو ګروپونو لخوا د دې پلانونو او طرحو ملاتړ شوی او تمه کېږي چې دا کار په نړیواله کچه د ډیجیټلي اسعارو د کارولو لپاره زمینه برابره کړي.

تمه کېږي چې د لیبرا (Libra) چارې د ۲۰۲۰ زېږدیز کال په لومړي نیمایي کې پیل شي، د لیبرا په نوم د ډیجټلي پیسو ملاتړ نه یوازې د لویو اسعارو د ټوکرۍ لخوا شوی، بلکې دا کار په ټوله نړۍ کې د زیرمه شویو شتمنیو له ملاتړ سره هم مخ شوی دی. ترسره شوې اداینې د لیبرا په (Block chain)کې ثبتېږي او فېسبوک ادعا کوي چې د ایتیریم (Ethereum) د ۱۵ او د بیټ کوین(Bit coin) د ۷ لېږدونو/ معاملو په پرتله به د لیبرا په مرسته په هره ثانیه کې ۱۰۰۰ لېږدونې اداره کېږي.

په دې راپور کې راغلي دي چې: ”اوس د هغه ډیجټلي پیسو د نوي ډول د پېژندلو وخت راغلی چې د (block chain) ټکنالوژۍ په مرسته جوړ شوی دی ”. ”د لیبرا (Libra) ماموریت د یو ساده نړیواله اسعاري او مالي بېخبنسټ جوړول دي چې د میلیاردونو وګړو روحیه غښتلې کوي.”

دا اسعار (currency) د لیبرا د ټولنې لخوا چې په جنیوا کې مېشته ده او د فېسبوک په ګډون د ۲۸ نورو ډلو لکه د ویزې، ماستر کارډ، پې پال، ای بې، اوبر او سپټوټیف څخه جوړه شوې ده، اداره کېږي. تر اوسه پورې هیڅ بانک دې پروژې ته ژمن نه دی.

تمه کېږي چې دا ټولنیزه شبکه به د لیبرا لخوا د راتلونکي کال تر پیله پورې له ۱۰۰ ګروپونو څخه ژمنې راجلب کړي.

د چارو تنظیم کوونکو د نویو پیسو پر وړاندې محتاطه غبرګون ښودلی دی. د انګلینډ د مرکزي بانک رئیس مارک کارني ټینګار کړی چې نوي اسعار د نړۍ په کچه د مرکزي بانکونو مستقیمې تنظیمي څارنې ته اړتیا لري.

د فایننشل ټایمز د راپور پر بنسټ، د G7 هېوادونو د ډیجیټلي اسعارو لکه د لیبرا (Libra) د خطر د څېړلو لپاره د یوې کاري ډلې د جوړولو اعلان کړی دی. په دې کاري ډله کې د پیسو د نړیوال صندوق او د مرکزي بانکونو استازي شامل دي.

سرچینه: The Banker July 2019

## تدویر جلسه روی دسترسی معلولین به خدمات بانکی

کابل،۱۹ عقرب۱۳۹۸- د افغانستان بانک پیرامون تسهیل دسترسی معلولین به خدمات بانکی با وزارت شهدا و معلولین تدویر جلسه نمود.

در این جلسه محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک و محترم لعل الدین اریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین پیرامون چگونگی فراهم نمودن تسهیلات دسترسی معلولین به خدمات بانکی، صحبت نمودند.

سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک طی این جلسه در رابطه به چگونگی دسترسی معلولین به خدمات بانکی و فراهم نمودن تسهیلات در این زمینه، خواهان ایجاد کمیسیون با اشتراک نمایندگان از د افغانستان بانک، وزارت دولت در امور شهدا و معلولین، کمیسیون مستقل حقوق بشر و نمایندگان بانکهای تجارتی گردید.

او افزود که کمیسیون یاد شده میتواند در جلسه بعدی نظریات خود را در این زمینه، مطرح نماید.

قابل یاد آوریست که در این جلسه نمایندگان کمیسیون مستقل حقوق بشر، وزارت تجارت و صنعت، اطاقهای تجارت بین المللی و بانکهای تجارتی هم اشتراک ورزیده بودند.

## د افغانۍ بانکنوټونو د دودولو په اړه غونډه وشوه



کابل،۱۳۹۸ کال د لړم۲۳ مه – د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر د کرکټ لوبغاړي کریم صادق د خیریه بنسټ له استازو سره د افغانۍ د دودولو په اړه لیدنه وکړه.

په دغه غونډه کې د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر د افغانۍ د دودولو په ارزښت خبرې وکړې او د دې خیریه بنسټ له غړويې هیله وکړه چې د افغانیو د دودولو په برخه کې د د افغانستان بانک سره مرسته وکړي.

دیاد بنسټ استازو چې د خپلو خیریه چارو د پراختیا لپاره د افغانستان بانک ته د سوداګریزو بانکونو او سوداګرو له استازو سره د لیدنې لپاره راغلي وو، ژمنه وکړه چې له کوم امتیاز پرته به د افغانۍ بانکنوټونو د دودولو لپاره کار کوي.

د غونډې په وروستۍ برخه کې د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي نوشېر له لوري د یاد خیریه بنسټ استازو ته په افغانۍ بانکنوټونوښکلې شوې ډالۍ ورکړل شوې.

# تدویر جلسه با نمایندگان بانکهای تجارتی



کابل، ۱۹ عقرب ۱۳۹۸– محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول دافغانستان بانک با نمایندگان بانکهای تجارتی تدویر جلسه نمود.

طی این جلسه پیرامون تضمین قرضه های بانکی، و چگونگی اعطای قرضه ها و سایر مسایل بانکی بحث گردیده و تبادل نظر صورت گرفت.

قابل یاد آوریست که در این جلسه محترمه مرضیه حفیظی تنی از تجاران کشور نیز اشتراک ورزیده بود که طی صحبتی خواهان تسهیل هرچه بیشتر در روند اعطای قرضه دهی گردید.

باید گفت که در این جلسه نمایندگان بانکهای تجارتی نیز از عرضه خدمات عالی در این زمینه اطمینان داده و یاد آور شدند که برای آن عده اشخاصیکه پلان های بهتر اقتصادی داشته باشند، در بخش اعطای قروض تسهیلات لازم را فراهم می نمایند.

# د افغانستان بانک د شریعه بورډ غونډه





کابل، ۱۳۹۸ کال د لړم ۲۹ مه – د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر په مشرۍ د دې بانک د شریعه بورډ او د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو د لوی آمریت له استازو سره معلوماتي غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې د صکوکو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعګانو په اړه هر اړخیز بحثونه وشول او د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو د آمریت د استازو له لوري په دې برخه کې د رامنځته شویو پرمختګونو په اړه د غونډې ګډونوالو ته معلومات ورکړل شول.

په یاده غونډه کې د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستیال د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو د رامنځته کولو په برخه کې د افغانستان بانک مشرتابه د هر ډول مرستې ژمنه وکړه او د قانون په رڼا کې یې د دې ډول خدمتونو په لا پراختیا ټینګار وکړ.

باید ووېل شي چې په همدې غونډه کې د افغانستان بانک د شریعه بورډ د ریاست لپاره رایه اچونه هم وشوه چې په پایله کې یې ښاغلی ډاکتر فضل الرحیم بصیرت د دریو کلونو لپاره د همدې بورډ د رئیس په توګه وټاکل شو.

د دې بورډ د ریاست لپاره په هرو دریو کلونو کې یو ځل خپل منځي ټاکنې ترسره کېږي.

# د ختیځ زون چارواکو له خوا د افغانۍ د کارونې او اسعارو د مخنیوي په موخه هڅې



کابل ۱۳۹۸ کال، د لړم ۲۸ مه- د افغانستان بانک د افغانۍ د کارونې د طرحې او د اسعارو د مخنیوي په موخه د هېواد په کچه له بېلا بېلا ادارو سره غونډې وکړې چې په پایله کې د ختیځ زون، چیرته چې د افغانۍ د کارونې کمپاین ته ډېره اړتیا لېدل کېږي، چارواکو وکولای شول، چې په دې اړه د افغانۍ د کارونې د همغږۍ غونډه جوړه کړي.

د افغانستان بانک له چارواکو سره له لیدنې وروسته پرله پسې ختیځ زون له د افغانستان بانک سره د دې ملي پروسې د پلي کولو او د اسعارو د مخنیوي په موخه خپله همکاري څرګنده کړه او په ننګرهار ولایت کې د لړم په ۲۷مه - د ختیځو ولایتونو د والیانو، ولایتي شورا رئیسانو او غړو او د نورو اړونده مسؤلینو ترمنځ په همغږۍ سره د افغانۍ د کارونې او د اسعارو د مخنیوي په موخه د اقداماتو د ترسره کولو لپاره د همغږۍ غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې د ختیځ زون اړوندو ننګرهار، لغمان او کنړ ولایتونو والیانو له خوا ښاروالانو، د انحصاراتو اداري چارواکو، اصنافو، صرافانو، سوداګرو، ترانسپورټ او نورو اړوندو اداراتو ته لارښوونه وشوه چې د ولایتي چارواکو د پرېکړې له مخې پخپلو برخو کې د افغانیو رواجولو او کارونې په موخه لازم اقدامات پیل کړي.

د ننګرهار ولایت والي شاه محمود میاخېل د زون په کچه د اړوندو اداراتو د همغږۍ په ټینګار سره وویل چې ورځ تر بلې به د افغانۍ د کارونې پروسې ته زور ورکړي او تدریجي توګه به په دې اړه اساسي ګامونه پورته شي.

پاتې دې نه وي چې د ننګرهار والي تر دې وړاندې مسئولینو او بېلابېلو قشرونو سره هم د افغانیو بشپړ چلند په موخه ناستې کړې دي او تېره ورځ یې په ننګرهار پوهنتون کې د افغانیو د کارونې په موخه په علمي سمینار کې د افغانۍ په کارونې ټینګار وکړ.

په دې غونډه کې ننګرهار والي شاه محمود میاخېل، د لغمان والي محمد آصف ننګ، د کونړ والي عبدالستار میرزکوال سربېره د دې ولایتونو مرستیالانو د ولایتي شورا غړو، ښاروال، سوداګرو، د اقتصاد پوهنځي استادانو او د یوشمېر نورو اړوندو اداراتو کارکوونکو ګډون کړی وو.

# برگزاری ورکشاپ آموزشی و آگاهی دهی برای محصلین اقتصاد پوهنتون جهان



کابل، ۱۵ عقرب ۱۳۹۸- د افغانستان بانک به سلسله برنامه های آگاهی دهی و آموزشی خود برای محصلین، این بار ورکشاپ آموزشی را در زمینۀ وظایف، اهداف و سیاست های کُلی بانک برای محصلین رشته های اقتصاد، مالی و بانکی پوهنتون جهان برگزار کرد .

در ابتدا محترم شفیق الله بارز معاون آمریت عمومی دفتر ریاست پیرامون همکاری های د افغانستان بانک با جامعه اکادمیک صحبت نموده، افزود که راه اندازی این ورکشاپ ها جزوی برنامه های ستراتیژیک بانک در زمینۀ تشریک معلومات، حسابدهی و شفافیت است. او همچنان خاطر نشان ساخت که مراکز تعلیمی و تحصیلی از جمله شرکای با اهمیت بانک در زمینۀ ارتقای سطح سواد مالی مردم به حساب می آیند. محترم بارز راه اندازی چنین ورکشاپ های آموزشی برای محصلین را بسیار با اهمیت دانست، زیرا محصلین محترم آنچه را در جریان دروس روزمره خویش بشکل تیوری می آموزند، از طریق این ورکشاپ ها با شیوه عملی تطبیق و راه اندازی آن آشنا میشوند .

متعاقباً محترم حنیف الله بشار رئیس پوهنځی اقتصاد پوهنتون جهان ضمن خوش آمدید گویی هیئت د افغانستان بانک به پوهنتون جهان روی اهمیت این چنین ورکشاپ ها صحبت نموده و بر دوام همکاری های د افغانستان بانک با پوهنتون جهان تأکید کرد.

در ادامه برنامه محترم عبدالله مسعود معاون آمریت عمومی سیاست پولی پریزنتیشنی را در زمینه طرح، تطبیق و اجرای سیاست پولی، ثبات قیم، کنترول انفلاسیون و مدیریت ذخایر ارزی کشور به اشتراک کننده گان ارائه داشته و بحث مفصلی را در زمینه ابزار های سیاست پولی، پول در دوران و پایه پولی و سایر موارد مرتبط دیگر انجام داد.

به همین ترتیب محترم حسیب الله بهنورد مدیر نظارت داخل ساحه آمریت عمومی نظارت امور مالی د افغانستان بانک ضمن ارائه پریزنتیشن در زمینه اهداف و وظایف نظارت امور مالی معلومات جامعی را پیرامون نحو نظارت از بانک ها، صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی و چگونگی درجه بندی بانک ها از حیث عملکرد به اشتراک کننده گان در میان گذاشت.

پایان ورکشاپ با پرسش و پاسخ از محصلین و مسئولین به همراه بوده و توزیع تصدیق نامه ها به اشتراک کننده گان نیز صورت گرفت.

# د افغانۍ د لا دودېدو لپاره د لوړ پوړو ولایتي چارواکو هڅې



د افغانستان بانک د شمال زون مسوولینو د ۱۳۹۸ هجري لمریز کال لپاره د افغانۍ د دودولو د طرحې د ګټو پر بنسټ د ۱۳۹۸ هجري لمریز کال د لړم د میاشتې په ۴ او ۷ نېټې د بلخ له لوړ پوړو ولایتي چارواکو، د ولایتي شورا او د یاد ولایت د پوهنې او د حج او اوقافو د ریاستونو له مسوولینو سره ولیدل او د داخلي راکړو ورکړو پر مهال یې د افغانۍ د تبلیغ او دودولو او د هغه د ژر زړېدو د مخنیوی د څرنګوالي په اړه خبرې وکړې.

په دې لیدنو کې لومړی ښاغلي محمد اسرار پویا د شمال زون مرستیال او سرپرست په ټولو سوداګریزو معاملو کې د افغانۍ د کارولو په ارزښت خبرې وکړې او د افغانۍ بانکنوټونو د ژر زړېدلو د مخنیوی په برخه کې یې ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل. له هغه وروسته، ښاغلي شجاع الدین شجاع د بلخ د ولایت مقام اداري مرستیال په سوداګریزو راکړو ورکړو کې د افغانۍ پر کارولو ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې د بلخ ولایت مقام د افغانۍ د دودولو او د افغانۍ د بانکنوټونو د سمې کارونې په اړه د خلکو د هڅولو په برخه کې د هر ډول مرستې ژمنه کوي.

همدا ډول، ښاغلي سید عبدالله مسرور د یاد ولایت د ولایتي شورا مرستیال وویل د هر ولایت ولایتي شورا د هغه ولایت د خلکو د ارادې تمثیلوونکې وي او د ټولنې له ټولو قشرونو سره په اړیکه کې وي او کولای شي له دې لارې په معاملو کې د افغانۍ د کارولو او په سمه توګه د بانکنوټونو د ساتلو په اړه اغیزمن او ګټور تبلیغات وکړي.

همدارنګه، د بلخ ولایت د حج او اوقافو د ریاست چارواکو هم د افغانۍ د دودولو او په سمه توګه د بانکنوټونو د ساتلو په اړه د تبلیغ په برخه کې د مرستې ژمنه وکړه.

له بلې خوا د بلخ ولایت د پوهنې د ریاست مسوولینو په ورځنیو راکړو ورکړو کې د افغانۍ د دودولو، کارولو او ساتلو د طریقو په اړه خپله خوښي څرګنده کړه او ژمنه یې وکړه چې یاده موضوع به د ښوونځیو د آمرینو او مدیرانو له لارې د ښوونې پر مهال زده کوونکو ته ورسوي.

د یادونې وړ ده چې یادو مسوولینو د مزار شریف د ښاروالۍ ریاست، د سرپل د ښاروالۍ ریاست، د سرپل د حج او اوقافو ریاست، د سر پل د پوهنې ریاست، د سرپل ولایتي شورا، د میمنې د ښاروالۍ ریاست، د جوزجان د پوهنې ریاست او نورو اړوندو ادارو سره د افغانۍ د ژر زړېدلو د مخنیوی په تړاو لیدنې او خبرې اترې ترسره کړې دي.

## د ختیځ زون د ولایتي چارواکو لخوا د ملي پیسو (افغانۍ) د لا دودېدو لپاره هڅې



